AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۰/۱۰/۰۳

# دا نو ښکته ومنو؟

مور به سهار سهار ویلي راته:

مخونه ومینځئ، بچو!

سیپارې واخلئ او جومات ته ولاړ شئ!

دا دی نن یې بیا مخونه را ومینځل،

دوهم ځل...

نن مور په سلګیو کې راته وویل:

مخونه و مینځئ، بچو!

نن د پاک خدای حضور ته ورځئ!

ولاړ شئ، د خدای دیدن مو په نصیب شه بچو!

وایي، خدای له ماشومانو سره خبرې کوي،

راځه وربه شو او له خدای څخه به وپوښتو:

مهربانه خدایه!

مورې خو یې ووژلو.

ویل: دا کار یې ستا په امر کړی.

خدایه ! رینښتیا وایي؟

ایا تا ورته ویلي و، چې مورې ووژنې؟

مورې یې ستا د خوشالۍ لپاره ووژلو.

خدایه، په لویه خدایه!

دا نو ښکته ومنو؟

چې ته به زمونږ په وژلو خوشاله کیږې؟؟؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ